


د مولانا سعيد افغاني : آزاده ، ټولنيزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# صديق « کاوون توفاني »

د نشر نیټه : 8 سپتامبر 2020

# راځه چې سره يو شوو

راځه چې سره يو شوو ، فريادونه سره يو کړو
د رزم په ډګر کې سنګرونه سره يو کړو
ښادۍ سره شريکې کړو ، غمونه سره يو کړو
دا ښيلې ښيلې لارې ، قدمونه سره يو کړو
دا هڅې سره يو کړو ، دا هوډونه سره يو کړو
په زړونو کې سپيڅلي ارمانونه سره يو کړو
راځه چې سره يو شوو ، پيلامه د اوښتون شوو
ويده ګلونه پاڅوو ، وږمه د سباوون شوو
* * *
ناره د آزادۍ ګوره سندره د زنځير شوه
د نورو اراده وه ، موږ ته کرښه د تقدير شوه
زموږ د ګلو پاڼه ، د بل باد د بل بهير شوه
شيبه د خوشالۍ ، د ماتمونو شوه د وير شوه
د ميني ترانه وه ، لاړه پوله د توپير شوه
د خلکو د ژوند لاره ، په پردي قلم تصوير شوه
وطن په اور کې کېناوه د وينو سوداګرو
يو څو « قهرمانانو » څو بې لارې زورورو
* * *
تر څو به دا تنکي ګلونه په اور سوزي
تر څو به مو سپيڅلي ارمانونه په اور سوزي
تر څو به د وطن غېږه د سرو وينو درياب وي
تر څو به ځواني هيلې ، تکلونه په اور سوزي

تر څو به مو زخمي غرور لاس تيتی د پردو وي
تر څو به مو سپېڅلي باورونه په اور سوزي
راځه چي وطن وباسو د وينو له دريابه
له درده ، له ماتمه ، د پېريو له عذابه

* * *

داځه راباندې وشول ؟ زه خو زيری د بهار وم
جذبه وم ، ولوله وم ، حماسه وم ، افتخار وم
د تورې شپې په زړه کې لکه ستوری د سهار وم
پر خپل قامت ولاړ وم  دنګه ونه د چنار وم
منصور ومه په خپلو وينو سور ، ښکلا د دار وم
بخرکی د غيرت ومه ، سکروټه د ايثار وم
دا څه راباندې وشول ، اوس له هر باده ، رپېږم
له خپله ځانه تښتم ، له خپل سيوري نه ، ډارېږم

* * *

راځه چي سره يو شوو ، هنګامه شوو د بريو
آزاد کړو دا اسير وطن ، د ظلم له کړيو
پر خړو دښتو وکرو اروا د پسرليو
د باغ ذهن کې وسپړو خوبونه د غوټيو
د ګل پر پاڼو وليکو غزلې د مستيو
شيبې د خوشالۍ کړو ، ماتمونه د پېريو
راځه چي يو تصميم ، يوه جرګه يو انتخاب شوو
راځه چي يوه خوله ، يوه خبره ، يو ځواب شوو
راځه ! چي سره يو شوو !

* * *

صديق « کاوون توفاني »

بازگشت به صفحه اصلی – [www.said-afghani.org](http://www.said-afghani.org)